مطبوعاتي اعلاميه

**د افغانستان او پاکستان ترمنځ د مسلمان‌وژنې فتنه د امريکا او هند د سيمه‌ايزو سياستونو په ګټه ده**

د افغانستان په پکتيکا او خوست ولايتونو کې د پاکستاني ځواکونو د هوايي بريدونو په پايله کې يو شمېر ملکيانو ته مرګ ژوبله اوښتې. د دغو بريدونو په ځواب کې د افغانستان پوځيانو د ډيورنډ کرښې په اوږدو کې د پاکستاني لوري پر پوستو بريدونه کړي او تلفات يې ور اړولي. د دواړو هيوادونو د ټولنيزو رسنيو فضا له نشنلستي او يو بل څخه د غچ اخيستنې له احساساتو څخه ډکه ده.

د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر د دواړو لورو د مسلمانانو ترمنځ روانه جګړه غندي او په اړه يې لاندې ټکي د يادونې وړ بولي:

لومړی: د ډېر تاسف او شرم ځای دی چې د اسلامي نړۍ تر ټولو پياوړی پوځ او د اټومي وسلو لرونکی د «ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې» په نامه د روژې په مبارکه مياشت کې په افغانستان کې ملکي خلک، ماشومان او ښځې د خپلو بريدونو هدف ګرځوي. په داسې حال کې چې له پنځو مياشتو راهيسې د پاکستاني جنرالانو د سترګو پر وړاندې يهودي دولت د فلسطين د خلکو د وينو ويالې بهوي او ټول‌وژنه يې کوي؛ خو د پاکستان خاين نظاميان پرته له دې چې کوچنی غبرګون وښيي، په ډېر ذلت د دغه وحشت ننداره کوي.

دويم: پاکستان په سيمه کې د امريکا مزدور دولت دی. د پاکستان دولت ځکه دا ډارن اعمال کوي چې امريکا په سيمه کې يوه نوې دنده ورته سپارلې. امريکا د پاکستان له پوځ څخه غواړي چې په قبايلو کې د پاکستان له مسلمانانو او د ډيورنډ کرښې په اوږدو کې د افغانستان له مجاهدينو سره ښکېل او بوخت وي. دلته دوه مسلمانان سره جنګېږي؛ هلته د مودي هندوپاله دولت، پرته له دې چې کوم مزاحمت ورته وشي، د هند دننه د مسلمانانو ځورونه او اذيت کوي او کشمير اشغالوي. دا ټولې هڅې د دې لپاره کېږي چې هند د پاکستان له اړخه اندېښنه ونه لري او وکولی شي چې د چين د مهار لپاره د امريکا په ستراتيژۍ کې خپله دنده ترسره کړي. نو د دوو مسلمانو اړخونو ترمنځ د وروستيو نښتو ريښه د سيمې لپاره د امريکا په سياستونو کې ده چې د پاکستان خاين حکام يې پلي کوي.

دريم: د افغانستان مجاهدين، د قبايلو مجاهدين او د پاکستان په پوځ کې مخلص جنرالان بايد له يو بل سره د جګړې، په کاذبو نشنلستي او وطني احساساتو کې د ښکېلېدو او يو د بل د هدف ګرځولو پر ځای د خپل ټوپک شپېلۍ سمې خواته ونيسي. په دغه حساس وخت کې د فلسطين د خلکو تر دفاع او د اشغال شوي کشمير تر ازادولو بل مهم کار نشته. نو واجب ده چې د دغه ستر ماموريت لپاره ډيورنډ سرطاني کرښه له منځه يوړل شي او خپل قوت او انرژي د مسجدالاقصی او د فلسطين او کشمير د خلکو د دفاع لپاره سره يو کړي. جزئي مسايل بايد مسلمانان سره ونه ويشي او روانه فتنه بايد د هند او امريکا په ګټه ختمه نه شي.

نو تر هغه چې د سيمې سياسي نقشه د دولت-ملت له نظم څخه خلافت دولت ته وا نه وړي او د خاينو حکامو او لاسپوڅو جنرالانو لاس د امت له برخليک څخه پرې نه شي؛ داسې فتنې به روانې وي. د تل لپاره د دغو ويجاړوونکو، اوږدو او تاريخي نښتو پای ته رسولو اساسي حللاره دا ده چې افغانستان، پاکستان او منځنۍ اسيا د نبوت پر منهج خلافت تر چتر لاندې سره يو شي. هغه خلافت

چې د سیمې فکري، سیاسي، نظامي او اقتصادي ظرفیت سره یو کوي او مسلمانان پر نړیوال قدرت بدلوي.

**﴿وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ﴾ [انفال: ۴۶]**
*ژباړه: د الله سبحانه و تعالی او د هغه د رسول [قران او سنتو] اطاعت وکړئ او له یو بل سره منازعه مه کوئ، ځکه چې په منازعې سره پاشل کېږی او ځواک او زور مو له منځه ځي*

د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر